دکتور لطیف یاد- استرالیا ۲۰۱۰/۱۱/۳

# د شمشاد تلوېزیون

## دلرو او برو او په نړۍ کې د ټولو مېشته پښتنو د زړه آواز دی

کله چي هر وخت د شمشاد نوم اورم او یا د شمشاد تلویزیون پروګرامونه ګورم نو د شمشاد دنګ او هیبتناک غر را په یاد شي او ددې ترڅنګ دهېواد د ډېر ښاغلي او محترم شاعر ښاغلي نصرالله حافظ صاحب هغه شعر را په یادشي چي وایي:

د شمشاد د هسکي څوکي زه وهمه داســـي کوکي

څوک یې اوري او که نه!

د شمشاد تلوېزیون چي د تېرو پنځو کلونو را پدېخوا زموږ د ګران هېواد افغانستان د پلازمېینې کابل نه خپروني کوي د افغا نستان یوازینی تلویزیوني چینل دی چي زیاتره خپروني یې په پښتو ژبه دي· دغه تلوېزیون نه یوازې د افغانستان په د ننه او پښتو نخواکې ډېر شمېر مینه وال او علاقمندان لري، بلکې د هېواده بهر یې هم خلک په ډېرې مینې سره ګوري او د پروګرامونو د لیدلو نه یې خوند اخلي·

دغه تلویزیوني چینل چي د هېواد د ملي او بادرده شخصیت ښاغلي الحاج فضل کریم فضل صاحب له خوایې بنسټ ایښودل شوی دی په حقیقت کې د پښتو ژبې او فرهنګ لپاره هغه ارزښتناکه خدمت دی چي باید ټول افغانان او په تېره بیا پښتانه یې ستاینه وکړي او دده دغه ستر او د قدر وړ خدمت ته په درنه سترګه وګوري، ځکه ښاغلي فضل صاحب د شمشاد د تلوېزیون بنسټ په داسي شرایطو کي کېښود چي له هرې خوا پښتانه او پښتو ژبه د دښمنانو تر ګوزارونه لاندې وه او فضل صاحب هم د حمزه بابا علیه الرحمه هغه خبره له یاده نه وه اېستلې چي ویلي یې و:

اغیارخو وایي د دوزخ ژبه ده زه به جنت ته د پښتو سره ځم

ښاغلي فضل صاحب دا خبره په شعوري توګه درک کړې وه چي پښتو چي د هېواد د اکثریت ژبه ده او نن سبا په لر او بر او ټوله نړۍ کي شپېته میلیونه وګړي پرې خبرې کوي د بې پښتو پښتنو او تش په نامه پښتني واکمنانو او زما مدارانو له خوا چي دې ژبې ته یې په ټیټه سترګه کتلي دي او داسي خواره یې پرېښې ده دې ته اړتیا لري چي ښه ایه شي· فضل صاحب په دې خبره هم پوهېده چي د هېواد په اساسي قانون کي پښتو ته د درې ژبې تر څنګ مساوي حق ورکړل شوی دی، خو له بده مرغه دغه ژبه نه په دفتري او سرکاري چارو کي او نه هم په پوهنتونونو کي مساوي حق لري، هغه د مساوي حق ماده په اساسي قانون کي تش په نامه یوه ماده ده چي هیڅ وخت ورته د عمل جامه نه ده اغوستل شوې·

که زموږ په هېواد کي لویو استادانو هریوه اروابناد علامه حبیبي صاحب، اروابناد وزیرصاحب محمد ګل خان مومند، اروابناد استاد صدیق الله خان رښتین بابا، اروابناد استاد ګل پاچا الفت صاحب، اروابناد استاد قیام الدین خادم صاحب، اروابناد استاد عبدالرؤف بېنوا صاحب، اروابناد علامه عبدالشکور رشاد بابا، اروابناد استاد روهي صاحب او اروابناد سر محقق دوست شینواری صاحب او په پښتو او پښتونولی باندې نورو پیاوړو محققینو او استادانو او فرهنګیالیو پښتو ژبې، ادب، فرهنګ او تاریخ ته د قدر وړ خدمتونه کړي دي او موږ ته یې پنډ پنډ کتابونه د خپلو ارزښتنا که میراثونو په توګه پرېښې دي، نو پښتني ټولني ته د ښاغلي فضل صاحب دغه ارزښتناکه ګام چي د پښتو ژبې ادب، فرهنګ، کلتور او تاریخ ته یې کړی او کوي یې هم باید له یاده ونه باسو·

که رښتیا ووایو او په خپلو ګرېوانونو کي سرونه ښکته وکړو او ښه فکر او سوچ وکړو موږ په خپل هېواد کي ډېر خلک لرو چي په ملیونونو ډالره لري، ځمکي او شتمنۍ لري، خو یوه ورځ مو وانه ورېدل چي پلاني سوداګر او شتمن دې د یتیمانو له پاره یوه یتیم خانه، د بېوزلو ماشومانو لپاره دې یو ښونځی، یو کوچنی کتابتون او د بېوزلو ناروغانو لپاره دې یو کوچنی کلینیک جوړ کړی وي او یا دې د کوم لیکوال یو کتاب او یا د کوم شاعر شعري ټولګه دې په خپلو پیسو چاپ کړي وي، فقط یوازې او یوازې په دې سوچونو کي دي چي په څه ډول سره یې د قارون په څېر شتمني او پیسې نورې هم زیاتې شي، خو زه وایم په داسي شتو او پیسو دې اور ولګېږي چي د خپل هېواد او خلکو د سوکالۍ لپاره ونه لګېږي او نه دې خپل فرهنګ او ژبې ته پرې څه مثبت کار وکړي·

خو فضل صاحب چي یو ملي او هېواد پالونکی سوچ او فکر لري د شمشاد د تلوېزیون په تاسیسولو سره یې یو داسي ستر او تلپاتي خدمت کړی دی چي دده ویاړلی نوم به زموږ د هېواد په تاریخ کي د تل لپاره ژوندی وي· ما ته په دې وخت کي د فضل صاحب په اړوند د خوشال بابا هغه شعر را په یاد شو چي ویلي یې و·



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دخوشال قدر که اوس په هیڅا نشته          پس له مر ګه به یې یاد کا ډېر عالم

خو خدای پاک دې فضل صاحب ته ډېر اوږد عمر ور په برخه کړي ۰ موږ به بیا هغه وخت دده ارمان کوو چې خدای مکړه دی زموږ په منځ کې نه وي۰
له بده مرغه ځینې خلک چې د مسایلو ژورتیاته متوجه ندي او یا هم ډېر لنډ فکره دي او په سرسري توګه پر مسایلو قضاوت کوي د شمشاد پر تلوېزیوني چینل باندې نیوکې کوي، زما په عقېده که چیرې د دوی دغه نیوکې د تلویزیون د پروګرامونو د ښه والي په اړه وي نو دا خو ډېر معقول کار دی او که تخریبي بڼه ولري نو دا په رښتیا سره هم ستر خیانت دی ۰ موږ باید تل هغه هڅې وستایو چې ددغه تلویزیون د ښه والي په اړوند وي۰
زه چې د لوېدیځې استرالیا د پرت په ښار کې اوسم د دریو کلونو راهیسې د شمشاد پروګرامونه  په پرله پسې توګه ګورم ستاسو د تلوېزیون خبري سرویسونه تعقیبوم ۰ ترنګ، دنکرېزو پاڼه، د لونګو امېل، د پردې تر شا، مور، نېکمرغه کورنۍ، زموږ هېواد، خوږې ترخې، خبرې او سندرې، له کابله تر لندنه او نورې خپرونې ګورم او چې د نورو افغانانو په تېره بیا پښتنو نه پوښتم نو ستاسو تلویزیوني پروګرامونه  په سیدني، ملبورن، کوینز لینډ، اډیلیډ او د استرالیا په نورو ښارونو کې هم په ډېر شوق او ذوق سره ګوري او خوند ترې اخلي۰
پوهېږم چې ستاسو تلوېزیون نوی او ځوان دی او د تلویزیون زیاتره کدرونه مو لا ځوانان دي او حتما به مو په پروګرامونو کې ځینې نیمګړ تیاوې موجودې وي، خو وخت ته اړتیا شته چې  دغه نیمګړتیاوې او ستونزې به دهرې ورځې په تېرېدو سره لرې او ستاسو دغه ځوان کدرونه به لا نورې زیاتې تجربې ترلاسه کړي ۰
په پای کې د شمشاد د تلویزیون مشر او بنسټ اېښودونکي ښاغلي الحاج فضل کریم فضل صاحب ته د پښتو ژبې او فرهنګ دودې په لاره کې ډېر بریالیتوبونه غواړم  او د شمشاد د ملي تلوېزیون ټولو اغلو او ښاغلو کارکوونکو ته د ډېرو ډېرو خوشالیو او په کارونو کې دلا زیاتو بریالیتوبونو هېله کوم ۰
په ډېر درنښت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ